# ***Banking***

Bank: according to Mr. Gilbert: bank is dealer in capital or money, it is an intermediate party between lender and borrower

دګیلبرټ مطابق : بانک دپیسو یا سرمایی معامله کوونکی دی کوم چه دقرض اخیستونکی او قرض ورکوونکی ترمنځ ددریم ګړی حیثیت لری یا دقرض ورکوونکی او قرض اخیستونکی ترمنځ رابطه جوړونکی ته بانک وایی.

According to Mr.kinly: Bank is an institution or organization which accepts deposit and advances loan.

دښاغلی کینلی مطابق: بانک یوه داسی اداره ده چه دخلکوڅخه دامانت په توګه پیسی قبلوی اوهغه پیسی بیا نوروخلکوته په قرض ورکوی.

Bank= is a financial organization which deals with other people money, it accepts deposit from those who has surplus amount of money at low rate of interest and advances loan to those who need finance of high rate of interest.

بانک یوه داسی مالی اداره ده کوم چه دنورو خلکو په پیسو باندی راکړه ورکړه ترسره کوی او دهغه چا څخه په کم سود سره پیسی دامانت په توګه قبلوی چاسره چه پیسی د ضرورت څخه زیاتی وی او هغه چاته یی په زیات سودسره په قرض ورکوی دچاچه پیسوته ضرورت وی.

## ***The evolution of bank***

**دبانکونوتاریخچه:** د ۱۵۴۸ کال څخه مخکی کله چه بانکونو وجود نه درلود نوخلکوبه خپلی پیسی دحفاظت لپاره دتجارانواو زرګرانوسره ایښودلی دغه تجارانواو زرګرانو به دخلکوپه پیسو باندی تجارت ترسره کولو اود ضرورت په وخت کی به یی خلکوته خپلی پیسی نه واپس کولی ددی مشکل دحل لپاره په کال ۱۵۴۸ کی دجرمنی په ښار Nuremburg کی یوه غونډه وشوه او لومړی بانک رامنځته شو بیا دیرش کاله وروسته په ۱۵۷۸ کال کی د GENENVA په ښارکی لومړی مرکزی بانک رامنځته شو او اوسنئ جدیده بانکداری په نوولسمه پیړۍ کی رامنځته شوه او همدارنګه په ۱۸۴۷ کال کی بانک جهانی رامنځته شو په افغانستان کی لومړی بانک ملی بانک دی چه په کال ۱۳۱۲ کی رامنځته شوی دی دافغانستان مرکزی بانک په ۱۹۳۹ کال کی رامنځته شو.

Ketabton.com

## 1: Merchants

**تجاران :** دا هم یوګروپ کسان وو چا سره به چه خلکو خپلی پیسی دحفاظت لپاره کیښودلی او دغه تجارانو به دخلکو په پیسی باندی کاروبار او ګټه کوله نو هریو تجاربه داکوشش کاوه چه خلک خپلی پیسی ددوی سره دحفاظت لپاره کیږدی نو له همدی کبله دتجارانو ترمنځ رقابت رامنځته شو او خلکوته یی دپیسو په مقابل کی ګټه ورکول شروع کړل او له همدی ځای څخه د سود بنیاد کیښودل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 2: Money lenders

داهم یو ګرپ کسان وو چه په کم سود سره به یی پیسی اخیستی او هم به یی پیسی په زیات سود سره نورو خلکوته ورکولی دغه ګروپ کسانو accepting deposit and advancing loan function را منځته کړ.

## 3: Gold smith

داهم یوګروپ کسانو وو چه د زرو کاروبار به یی کاوه خلکوبه خپل قیمتی شیان لکه سره زر، سپین زر او دجیدادونو اسناد او داسی نور قیمتی شیان دحفاظت په توګه د زرګرانو سره کیښودل او زرګرانوبه دخلکو څخه دشیانو دحفاظت په بدل کی فیس اخیسته اوسنئ جدیده بانکونه هم دخلکودقیمتی شیانوحفاظت اوساتنه کوی چه دغه کار دګولډ سمیت په وخت کی رامنځته شوی و.

# Types of bank

## 1: Types of bank according to function

### A: Central bank

مرکزی بانک دیو مملکت ترټولومهم او لوی بانک وی دغه بانک ددولت لخوا څخه ددی مقصد لپاره جوړیږی چه په هیواد کی دبانکداری نظام او بانکونه کنترول کړی مرکزی بانک دنورو ډیرو وظایفوسره په هیوادکی د نوی پیسو چاپولو یوازینی حق لری.

### B: Commercial bank

تجارتی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی کوم چه دګټی کولوپه مقصد جوړیږی ددغی بانکونو اساسی وظیفه دخلکو څخه په کم سود سره دپیسو قبلول دی او هغه پیسی بیا په زیاد سود سره نورو خلکوته ورکول کیږی دتجارتی بانکونو اساسی وظیفه ده.

### C: Agriculture bank

زراعتی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی کوم چه ددولت له خوا څخه ددی مقصد لپاره جوړیږی چه دهیواد دزراعتی برخی ته وده اوپرمختګ ورکړی دغه بانکونه دهکانانوته لنډمهاله، منځ مهاله او اوږدمهاله قرضی ورکوی ترڅو دهکانان وکولی شی چه د ښه معیارتخمونه، سری او زراعتی سامان آلات ترلاسه کړی همدارنګه زراعتی بانکونه دهکانانوته دزراعت په برخه کی روزنه ورکوی او نوی نوی تحقیقات کوی ترڅوپه هیوادکی دزراعت په برخه کی پیاوړی شی .

### D: Industrial bank

صنعتی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی کوم چه ددولت له خوانه ددی مقصد لپاره جوړیږی چه په ملک کی دصنعت برخی ته وده ورکړی دغه صنعتی بانکونه صنعت کارانوته مختلف ډول قرضونه ورکوی ترڅودهغوی مالی ضروریات پوره شی همدارنګه دمالی مرستو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاوه صنعتی بانکونه د صنعت کارانوسره دضرورت په وخت کی تخنیکی مرستی هم کوی.

## E: Investment bank

سرمایه ګزاری کوونکی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی کوم چه ددولت لخوا ځخه ددی مقصد لپاره جوړیږی چه په هیوادکی د سرمایه ګزاری برخی ته وده اوپرمختګ ورکړی دغه بانکونه پخپله هم سرمایه ګزاری کوی اونوروته هم دسرمایه ګزاری کولوزمینه برابروی.

## F: Cooperative bank

دا هغه بانکونوته ویل کیږی کوم چی د ورروسته پاتی سیمود ودی اوپرمختګ لپاره ددولت لخوا ځخه جوړیږی دغه بانکونه دکلیوالو او ورروسته پاتی سیموخلکوسره دوړو وړو کاروبارونوکی مرسته او همکاری کوی.

## 2: Types of bank according to domicile

### A: Foreign bank

خارجی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی دکوموبانکونوچه مرکزی دفتر دملک ځخه بهر وی ددغه بانکونوکنترول او اداره هم دملک ځخه بهردمرکزی دفترلخوا کیږی.

### B: Domestic bank

داهغه بانکونوته ویل کیږی دکوموچه مرکزی دفتر دهیواد دننه وی اوددغی بانکونوکنترول اواداره هم په ملک کی دننه دمرکزی دفتر لخوا ترسره کیږی

---

## Types of bank according to ownership :3

---

### A: Private sector bank

شخصی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی چه په هغه کی د 50% ځخه زیات سهمونه یا Shares دعامو خلکو وی او ددغی بانکونو کنترول هم دعامو خلکوپه لاس کی وی.

### B: Public sector bank

دولتی بانکونه هغه بانکونوته ویل کیږی چی په کوموبانکونو کی 50% ځخه زیات سهمونه یا شئیرز ددولت سره وی اوددغی بانکونو کنترول او اداره هم ددولت په لاس کی وی.

## 4: Types of bank according to schedualization

### A: Scheduled bank

هغه بانکونوته ویل کیږی کوم چه دمرکزی بانک سره راجستر وی او دهغوی په جدول کی شامل وی دغه بانکونه دمرکزی بانک سره یو ځه اندازه پیسی دضمانت په توګه ږدی بیایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزی بانک له ځان سره راجسترکوی . کچیرته دغه بانک له چا څخه پیسی وتختوی نو مرکزی بانک به یی تاوان ورکوی

***B: Non-scheduled bank***

هغه بانکونوته وایی چی دمرکزی بانک سره راجستر نه وی او دمرکزی بانک وصول او قوانین په ځان نه تطبیقوی اوکه دچا څخه یی پیسی وتختولی نو حکومت یی ذمه وار نه دی.

## *Functions of commercial bank*

1) Primary functions of commercial bank

***A: Accepting deposit***

کله چی یوکس وغواړی په بانک کی پیسی جمع کړی نو دغه پیسی تری بانک په کم سود سره قبلوی . یعنی په بانک کی پیسی جمع کولوته وایی.

***1: Current account /deposit***

**جاری حساب**: هغی حساب ته ویل کیږی چی هروخت په کی مونږ پیسی جمع کولی شو او هروخت چی وغواړو پیسی تری راویستلی شو. پدی پیسو باندی بانک اوږدمهاله سرمایه ګزاری نشی کولی او پدی باندی بانک مشتری ته سود نه ورکوی.

***2: Fixed account***

هغه حساب ته ویل کیږی چی هروخت مونږ نشو کولی چه پیسی تری وباسو یعنی پدی حساب کی وخت مشخص وی د مثال په ډول چه ددری کالولپاره حساب جوړ کړی بیا مخکی له دری کالو نشی کولی چه پیسی تری وباسی .پدی حساب باندی بانک مشتری ته سود ورکوی اوکه چیرته مشتری ته دوخت څخه مخکی پیسوته ضرورت شو نوبیا بانک ته عریضه لیکی بانک یوه هفته یا دوه هفتی وخت ورکوی.

***3: Saving account***

**سپماحساب:** پدی حساب کی هم د ***Fixed account*** غوندی دمعلوم وخت لپاره پیسی اچول کیږی کوم چی دوخت څخه مخکی نشی ویستلی خو فرق یی دادی چی ددی حساب څخه یوڅه اندازه پیسی دوخت څخه مخکی ویستلی شی دمثال په ډول یوکس په خپل حساب کی ۱۰۰۰ روپی اچوی نو کولی شی دضرورت په وخت کی تری ۵۰۰ روپی وباسی . پدی حساب باندی سود هم ورکول کیږی خو د ***Fixed account*** په پرتله کم.

***Profit and loss account :4***

**دګټی او تاوان حساب:** هغه حساب ته ویل کیږی کله چی مونږ په بانک کی پیسی جمع کړو نومونږ دبانک سره په کاروبارکی شریکیږو که بانک په کاروبارکی ګټه وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږته به ګټه راکوی اوکه په کاروبارکی تاوان وکړی نوتاوان به ورکوو پدی حساب کی سود نه ورکول کیږی.

## B: Advancing loan

.قرض ورکول: بانک خلکوته قرض ورکوی په زیات سود سره او خپله یی په کم سود سره اخلی

### 1: Cash account

کیش حساب دی ته ویل کیږی چی یو چاته بانک پیسی دنغدو په شکل ورکړی. ددی لپاره دا ضروری نه ده چی په بانک کی حساب ولری خو ددی په ضمانت کی به بانک ته یو څه ورکوی.

### 2: Credit account

هغه قرض ته ویل کیږی کوم چی په کارډ کی اچول کیږی خو نغدی پیسی تری نشی ویستلی او سود یی د نغد یا کیش حساب څخه زیات دی پدی کارډ باندی یواځی مونږ خریداری کولی شو او دادیوکال لپاره ورکول کیږی.

### 3: Overdraft

ددی قرض لپاره ضروری ده چی مونږ په بانک کی حساب ولرو کچیرته یوکس په بانک کی 10000 روپی ولری او داکس دبانک لپاره یو با اعتماده کس وی نوکولی شی چی دبانک څخه د 10000روپو پرځای 11000 روپی وباسی. دی 1000 روپوته چی دبانک څخه یی اضافه ویستلی Overdraft وایی او ددی اضافه روپو به بانک ته سود ورکوی.

---

## Secondary function of commercial bank

---

### 1: Transfer of money

دتجارتی بانکونو بله دنده داده چی دپیسو انتقال دملک په داخل کی اوهم د ملک څخه دباندی کوی او په مقابل کی یی بانک فیس اخلی دپیسو انتقال ګټه دبانک پواسطه داده چی ددوه یا لسو دقیقو دننه کولای شو چی خپلی پیسی دملک دننه اوبهرته واستوو.

### 2: Foreign exchange money

دتجارتی بانکونوبله وظیفه داده چی دیوملک Currency دبل ملک په Currency بدلوی مثلا یوکس غواړی چی په خارج ملک کی خریداری وکړی نوپه هغه ملک کی دخپل ملک Currency نشی استعمالولی نودادتجارتی بانکونو وظیفه ده چی دغه Currency دهمغه ملک Currency ته بدله کړی یواځی ډالر او ایرو نړیواله کرینسی ده چی په هرملک کی استعمالیدی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### Investment fund :3

دتجارتی بانکونوبله وظیفه داده چی دوی پخپله په یوملک کی سرمایه ګزاری کوی یعنی بانک ته خلک Deposit وکړی نوځینی یی خلکوته په قرض ورکړی اوباقی نوروپیسوباندی خپله سرمایه ګزاری کوی.

### Creation of credit :4

دتجارتی بانکونوبله وظیفه داده چی په ملک کی دپیسوعرضه زیاتوی مګر دپیسو عرضه دنوی پیسو په چاپولو پواسطه نه زیاتوی ادا دقرض په ورکولوپواسطه زیاتوی مثلا یوکس ۱۰۰۰۰ روپۍ په بانک کی جمع کړی بانک دغه پیسی بل کس ته د Credit card په شکل ورکوی نو دغی کریډیت کار ډپواسطه کولای شو چی مشتری خریداری وکړی نوهم ۱۰۰۰۰ په بانک کی پرتی وی اوهم یی خریدارته په قرض ورکړی وی اوهم بانک تری استفاده وکړی.

### Facilitate foreign trade :5

داپه خارجی تجارت کی دتجارانوسره مرسته کوی مثلا لکه یوتجار دملک څخه بهر په کوم خــارجی هیــواد کی خریــداری وکړی نوتجــارتی بانکونــه هم Technically او هم Financially کومک کوی یعنی تجارتی بانکونه هم په Export اوهم په Import کی دتجارانوسره مرسته کوی.

## Agency function of commercial bank

### Custodian of precious articles :1

دقیمتی شیانو حفاظت کول: د Commercial bank د Agency وظایفوڅخه یوه وظیفه ده چی دخلکودقمیتی شیانو حفاظت کوی پدی شرط چی قانونی وی لکه سره زر، سپین زر، دکورونواسناد، دموټرو اسناد، او دځمکو اسناد ساتی په مقابل کی یی به دغه شخص بانک ته فیس ورکوی او ددغه شیانو ذمه واری به دبانک په غاړه وی.

### Collection of income :2

د Commercial بانک د Agency وظایفوڅخه یوه وظیفه داده چی دخلکو عوائید راجمع کړی که یوکس یا کمپنۍ چی نشی کولی خپل عوائید ترلاسه کړی نوهغوی دتجارتی بانکونوسره قرارداد کوی چی زمونږه عوائید راټول کړه اوبانک دغه عوائید دخلکوڅخه راټولوی او ددی په مقابل کی به خپل فیس دموجوده کمپنۍ څخه اخلی او کیدی شی چی عام خلک یا شخصی کمپنۍ وی او یادولتی وی لکه دبرق بل.

### Collection of cheques :3

د Commercial bank د Agency وظایفوڅخه یوه وظیفه داده چی دخپل مشتریانو Cheques راجمع کړی یوکس یاکمپنۍ نشی کولی چی دخپل مشتریانو څخه Cheques ترلاسه کړی نوهغوی دبانک سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

قراردادکوئ اوبانک دهغوی لپاره هرڅای کی غرفی لرۍ او دهغوی Cheques راټولوئ پدی سره کمپنئ هم رقابت کولی شی او هم دمشتریئ لپاره سهولیت دی او بانک ته به فیس ورکوی.

## Payment of expenses :4

دتجارتی بانکونو دایجنسی وظایفوڅخه یوه وظیفه دادده چی دخپل مشتریانولپاره دهغوی Payments کوی او ددی لپاره شرط دادی چی ددواړو ترمنځ به لیکل شوی قرارداد وی او دواړه کسان به په بانک کی Accounts لری او دپیسواندازه او وخت به یی معلوم وی او ددی په مقابل کی به بانک Charges اخلی.

## Role of banks in economic development of a country

### Promoting trade and industry :1

دبانک پواسطه په هیوادکی پرمختګ رامنځته کیږی یعنی بانک د صنعتی کمپنیوسره مرسته کوی او همدارنګه دسرمایه ګزاری کوونکوسره مرسته کوی او پخپله هم سرمایه ګزاری کوی چی پدی سره په ملک کی صنعت او عاید زیاتیږی، خلکوته کارپیداکیږئ او غربت له منځه ځی او صادرات هم کیږی.

### Bank promotes capital formation :2

دبانک پواسطه دخلکوسرمایه زیاتیږی یعنی که یوکس په کورکی اضافی پیسی ولری او په بانک کی یی جمع کړی نوبانک ورته پدی پیسوباندی سود ورکوی بانک دغه پیسی بل کس ته په زیاد سودسره ورکوی او کوم کس چی پیسی دبانک څخه اخلی هغه هم پری کاروبارکوی چی پدی سره ددری واړو سرمایه زیاتیږی.

### Investment in new enterprises :3

دبانکونویو اهمیت دادی چی دنوی کاروبارونوسره مرسته کوی اوهغوی Support کوی.

## Instruments of credit

### 1: Pay oral credit

دا دقرض ورکولو هغه طریقه ده په کوم کی چی قرض ورکوونکی او قرض اخیستونکی دواړو سره د قرض لیکل شوی سند نه وی موجود.

### 2: Open book account

دا دقرض هغه طریقه ده په کوم کی چی دقرض ورکوونکی سره دقرض لیکل شوی سند موجود وی خو د قرض اخیستونکی سره دقرض اخیستلو لیکل شوی سند نه وی موجود.

### 3: Documentary credit

دا دقرض هغه طریقه ده په کوم کی چی دقرض اخیستونکی او قرض ورکوونکی دواړو سره دقرض لیکل شوی سند موجود وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# TYPES OF DOCUMENTARY CREDIT

**1: Negotiable instruments**

**2: None negotiable instruments**

**Negotiable instruments**

هرهغه لیکل شوی سند کوم کی چی یوکس ته د پیسو ترلاسه کولو حق ورکوی او دیو کس څخه بل کس ته په اسانئ سره انتقالیږی Negotiable instruments بلل کیږی او دا په لاندی ډول دی.

**1: cheque**

**2: bill of exchange**

**3: Promissory**

**1: Open cheque**

دا هغه چیک ته وایی کوم چیک چی صرف او صرف په هغه بانک کی جمع کیدلای شی چه دکوم بانک چیک وی یعنی دکوم بانک سره چی تعلق لری او په دغسی چیک باندی بانک خپل مشتری ته نغدی پیسی ورکوی او دا چیکونه په لاندی دری ډوله دی.

**A: Barer cheque**

دا هغه چیک ته وایی چی په کوم چیک باندی دیومشخص شخص نوم او دتذکری نمبر نه وی لیکل شوی او دغه چیک صرف په هغه بانک کی جمع کیدای شی چی دکوم بانک چیک وی او یو کس کولای شی چی پدغه چیک دبانک څخه نغدی پیسی ترلاسه کړی.

**B: Order cheque**

دا هغه چیک ته وایی په کوم چیک باندی چی دیومشخص کس نوم او دتذکرۍ نمبر لیکل شوی وی او دهمدغی کس نه علاوه بل هیڅوک نشی کولای چی پدغه چیک باندی دبانک څخه نغدی پیسی ترلاسه کړی او داچیک هم صرف په هغه بانک کی جمع کیدای شی چی دکوم بانک چیک وی.

**C: Cross cheque**

هغه چیک ته وایی چی دکوم چیک په پورتنی چپ طرف کونج باندی دوه موازی کرښی راښکل شوی وی او په دغه چیک یومشتری کولای شی چی په هریو بانک کی جمع کړی پدی چیک باندی بانک خپل مشتری ته نغدی پیسی نه ورکوی بلکی لومړی پیسی دمشتری اکاونټ ته انتقالیږی او بیا مشتری کولای شی چی دخپل حساب څخه نغدی پیسی ترلاسه کړی او دا چیک په لاندی دری ډوله دی.

i. **General crossing**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د Cross cheque هغه ډول دی چې دکوم چیک د موازی کرښو ترمنځ And co لیکلی وی او یا هیڅ هم نه وی لیکلی او دغسی چیک مشتری کولای شی په هریو بانک کی جمع کړی.

ii. Special crossing

دا د Cross cheque هغه ډول دی چې دکوم چیک دموازی کرښو په منځ کی د یومشخص بانک نوم لیکلی وی او مشتری دهمدغی بانک نه علاوه نشی کولای چی په بل بانک کی دغه چیک جمع کړی.

iii. Restrictive crossing

دا د Cross cheque هغه قسم دی چی دکوم چیک دموازی کرښوپه منځ کی دمشخص کس او دمشخص بانک نوم ذکرشوی وی او دغسی چیک به صرف هغه کس په هغه بانک کی جمع کولای شی چی دکوم کس او دکوم بانک نوم دموازی کرښو په منځ کی لیکل شوی وی.

## Reasons for di hanging a cheque

### Cheque not signed :1

کله چې یوحساب لرونکی چیک جاری کړی اوپه چیک باندی لاسلیک ونه کړی نو دغسی چیک دبانک لخوا نه قبلیږی .

### Out dated cheque :2

کله چې یوچیک جاری شی اود جاری کیدو څخه ترشپږمیاشتوپوری په بانک کی جمع نه شی داسی چیک ته Out dated وایی او دغه چیک دبانک لخوا نه قبلیږی.

### Insufficient balance :3

کله چې په چیک باندی دپیسومقدار لیکل شوی وی او حساب لرونکی په حساب کی دموجوده پیسومقدارـ څخه زیات وی نو دغسی چیک دبانک لخوا ردیږی.

### Signature differ :4

کله چې په بانک کی دحساب لرونکی دنمونی په توګه شوی لاسلیک اوپه چیک باندی شوی لاسلیک دواړو کی فرق، توپیر موجودـوی نو دغسی چیک بانک ردوی۔

### No date on cheque :5

کله چې په چیک باندی تاریخ نه وی لیکل شوی نو دغسی چیک بانک رودوی .

### Material alteration :6

کله چې حساب لرونکی په چیک کی څه تغیرات راولی او دهغه تغیراتوـ سره ځانګړی امضا ونه کړی نو دغسی چیک بانک ردوی او نه یی قبلوی.

### Mutilated cheque :7

کله چې یوچیک په دوه یادوو څخه زیاتوبرخوکی ډیری شوی وی یعنی شکیدلای وی دغسی چیک بانک نه قبلوی .

### Insolvency of customer :8

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د یوکس د مفلصۍ خبرتیا دمحکمی لخوا ځخه بانک ته ورکړل شی نودهغی ځخه وروسته چې دمشتر په اکاونټ باندی هرډومره چیکونه جاری کیږی ټول به دبانک لخوا ردیږی .

### Order of court :9

کله چې محکمه بانک ته امر وکړی چې دکوم مشخص کس حساب کنګل شی نو دهغی ځخه وروسته چې دهغی حساب باندی هرڅومره چیکونه جاری کیږی دبانک لخوا ځخه به ردیږی.

### Different in amount, in words and figures :10

کله چې په چیک باندی په الفاظو او اعدادوکی لیکل شوی دپیسو مقدارکی فرق موجود وی نو داسی چیک دبانک لخوا ځخه نه قبلیږی.

### Notice of Bank :11

کله چې یومشتری بانک ته په لیکلی توګه امر وکړی چې زما حساب دی کنګل شی نو دوی دامر په اساس چې څومره چیکونه ددی حساب ځخه جاری کیږی دبانک لخوا ځخه نه قبلیږی.

# Central bank

## Main function of central bank

### 1: Sole right of note issue

دپیسوچاپولو یواځینی حق: دپیسوچاپولو یواځینی حق مرکزی بانک لری بل هیڅ بانک نشی کولی چې پیسی چاپ کړی مرکزی بانک ددوه سیستمونوله مخی پیسی چاپوی .

#### A: Fixed fiduciary system

ددی سیستم له مخی دیوهیواد تخمیناً مصارف اوعوائید معلومیږی کچیرته دعوائیدو ځخه مصارف زیات وی یعنی عوائید کم وی اومصارف زیات وی نومرکزی بانک چې کوم لوژونه، پیسی چاپوی نودهغی لپاره **Reserve** نه ساتی خوکه چیرته اضافی پیسی چاپوی نودهغی لپاره به سل فیصده **Reserve** ساتی.

#### B: Proportional reserve system

ددی سیستم له مخی عوائید اومصارف نه معلومیږی مګر دپیسوچاپولو لپاره یوه خاصه اندازه **Reserve** ساتل کیږی اوهرڅومره پیسی چې چاپوی دهغی ټاکل شوی اندازه **Reserve** ورته ساتل کیږی.

### Banker bank :2

دمرکزی بانک یوه وظیفه داده چې په هیواد کی دبانکداری نظام کنترولوی نوځکه مونږ ورته دبانکونو مشربانک وایو.

### Banker to the state :3

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددولت بانـک: څرنګه چې تجارتی بانکونـه عاموخلکوتـه مختلـف وظـایف سـرته رسـوی همدارنګه مرکـزی بانـک دولت تـه مختلـف کارونـه سـرته رسـوی لکـه دولت تـه عوائـد راټولول، دولت ته قرض ورکول، ددولت مصـارف ورکـول او ددولت پیسـی دیوځای څخـه بل ځای ته انتقالول.

## Banker clearing house :4

دبانکونولپاره تصفیه خانی جوړول: دمرکزی بانک یوه وظیفه داده چې دهیوادپه مختلفوسـاحوکی تصـفیه خـانی یاحسـاب ګر جـوړوی چیرتـه چې دټولوبانکونونمائنـده ګان راټولیږی او خپل حسابونه تصفیه کوی.

## Lender to the last resort :5

دتجارتی بانکونواخرنی کومک کوونکی : کله چې تجارتی بانکونوته کوم مشکل پیداشی او دوی خپل مشکل پخپله حل نشی کړای نوپه دغه وخت کی مرکزی بانک مداخلت کوی او دتجارتی بانکونومشکل حلوی اوتجارتی بانکونه له منځه تللو څخه ژغوری.

## Financial agent :6

مرکزی بانک ددولت مالی نمائنده دی یعنی ددولت چې دپیسوسره څومره تړلی فیصلی کوی هغه ټول کنترول او اداره به دمرکزی بانک لخوا څخه کیږی .

## Effective monetary policy :7

دپیسوګټوره پالیسی: مرکزی بانک په هیوادکی دپیسو عرضه برقرار ساتی ترڅو دپیسوعرضه نه کمه شی اونه زیاته کچیرته په ملک کی دپیسوعرضه زیاته شی نو **Inflation** ګرانی رامنځته کیږی اوکه چیرته عرضه کمه شی نو **Deflation** ارزانی رامنځته کیږی چې دغه دواړه حالته یو ملک دتباهئ سره مخ کوی.

## Custodian of monetary reserve :8

دقیمتی شیانومحافظت کول: دمرکزی بانکونویوه وظیفه داده چې ددولت قیمتی شیان وساتی لکه سره زر، سپین زر، ددولتی جایدات کاغذونه ، دخارجی اسعارو ساتنه اوداسی نور.

## Foreign exchange

خارجی اسعار: هغه کرنسی یا پیسی چې په ټوله نړئ کی د اعتبار وړ وی یا په کومه کرنسئ چې مونږ په ټوله نړئ کی راکړه ورکړه کولای شو هغی ته خارجی اسعار وایی.

## Importance of foreign exchange

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Strength of economy :1**

داقتصاد پیاوړی کول: دخارجی اسعارو یوه ګټه داده چی پدی سره دیو ملک اقتصاد پیاوړی کیږی ځومره چی په هیوادکی خارجی اسعار زیاتیږی په هماغه اندازه دغه هیواد ددی توانایی پیداکوی چی دخپل ضرورت وړ توول شیان ترلاسه کړی اوخپل اقتصاد ته پرمختګ ورکړی.

**Balance of payment :2**

کله چی په یوملک کی صادرات د وارداتوڅخه زیات شی دی حالت ته **Balance of payment** وایی او دغه حالت دیوهیواد لپاره ښه حالت وی ځکه ځومره چی په هیوادکی خارجی اسعار زیاتیږی په هغه هیوادکی به صادرات هم زیاتیږی .

**Make international trade easy :3**

ځرنګه چی خارجی اسعارپه ټوله نړۍ کی داعتبار وړ دی نوځکه دی سره نړیوال تجارت اسانه کیږی.

**Rate of exchange :4**

دخارجی اسعارو یوه فایده داده چی ددی پواسطی سره مونږ کولای شوچی دیوبل هیواد دشیانو ارزښت یا دکرنسۍ ارزښت دخپل هیواد په کرنسۍ کی معلوم کړو.

**Hard currency nation :5**

په کومو هیوادونوکی چی دخارجی اسعاروپه نرخ کی ژر ژر تغیر راځی هغه تغیرملکونوته **H.C.N.** وایی ځومره چی په یوملک کی خارجی اسعار زیاتیږی نوپه هماغه اندازه په ملک کی دخارجی اسعاروپه نرخ کی ژر ژر تغیر نه راځی.

**Credit worthiness :6**

ځومره چی په یوملک کی خارجی اسعار زیاتیږی په هغومره اندازه نړیوالی مالی اداری په هغه ملکونوباندی دقرض باور کوی اوپه اسانۍ سره هغه ملکونوته قرض ورکوی.

## Foreign exchange market

هرهغه ځای مارکیټ یا بازار په کوم ځای کی چی خارجی اسعاراخیستل کیږی او یا خرڅول کیږی اودمرکزی بانک سره راجستر وی هغه ځای ته دخارجی اسعارو بازار وایی.

## Functions of foreign exchange market

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Transfer function :1**

دخارجی اسعارو دبازار یوه وظیفه داده چی دوی دخپلومشتریانولپاره دیوځای څخه بل ځای ته خارجی اسعار انتقالوی اوپه بدل کی یی تری فیس اخلی.

**Credit function :2**

دقرض ورکولووظایف: دوی خپلومشتریانوته مختلف ډول قرضونه ورکوی لکه لنډمهاله، اوږدمهاله او منځ مهاله قرضونه او په بدل کی یی تری سود اخلی.

**Hedging function :3**

دخارجی اسعارو دبازاریوه وظیفه داده چی دوی خپلومشتریانوته دیومشخص وخت لپاره خارجی اسعار په یوټاکل شوی نرخ سره تبادله کوی چی دی وظیفی ته دسیټی وظیفه وایی. دا اکثره په صرافی مارکیټ کی ترسره کیږی.

## Exchange control

دا هغه سیستم ته ویل کیږی چی په کوم کی دیوملک وګړی نشی کولی چی دخپلی خوښی ترحده پوری خارجی اسعارله ځان سره وساتی ددولت لخوا څخه دخارجی اسعارو د ځان سره ساتلولپاره یوخاص حد ټاکل شوی وی اودهماغه حد څخه زیات خارجی اسعاریوکس له ځان سره نشی ساتلی چی دا دیوملک لپاره ډیرګټور تمامیږی.

## Objectives of foreign exchange

**To correct adverse balance of payment :1**

دخارجی اسعارو دکنترول یوه فایده داده چی په ملک کی صادرات زیاتیږی او واردات کمیږی اوپه ملک کی د **Balance of payment** حالت رامنځته کیږی چی دیوملک لپاره ښه اوپه زړه پوری حالت وی .

**To conserve foreign exchange :2**

**To present the flight to capital abroad :3**

دغه پورته دواړه نقطی یوه معنی لری. دخارجی اسعارو دکنترول یوه فایده داده چی دولت کولی شی په ملک کی خارجی اسعار ذخیرکړی یعنی دولت دخارجی اسعارو دکنټرول پواسطی سره تجاران دی نه پریږدی چی په غیری ضروری توګه دملک څخه بهرته خارجی اسعار انتقال کړی .

**To protect home industry :4**

بله فایده یی داده چی ددی پواسطی سره دولت کولی شی چی خپلی کمپنیانی دتباهی څخه وژغوری ځکه چی په یوملک کی خارجی اسعار موجود وی نو دولت کولی شی چی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولوهغه شیانود راواردولوبندیز۔ ولګوی کوم چې په خپل هیوادکی تولیدیږی نـو دی کارسـره دیوملک داخلی صنعت پیاوړی کیږی.

### To stabilize exchange rate :5

دخارجی اسعارو دکنترول یوه فایده داده چی ددی پواسطی سره دولت کولی شی چی په ملک کی دخارجی اسعارو نرخ برقرار وساتی کچیرته په یوملک کی دخارجی اسعارو عرضه دضرورت څخه زیاته شی اویا هم دضرورت څخه کمه شی نودخارجی اسعاروپه نرخ کی به زیاتوالی راځی نودولت دخارجی اسعارو پواسطی سره داسعارو نرخ برقرارساتی او دخارجی اسعارو نرخ هم برقرارپاتی کیږی۔

### To practice discrimination in international trade :6

دخارجی اسعارو دکنترول یوه فایده داده چی ددی پواسطی سره مونږ دځینوملکونوسره چی وغواړوتجارتی اړیکی ټینګی کړواو یا هم تجارتی اړیکی خرابی کړو نو دخارجی اسعارو پواسطی سره امکان لری.

### To check the important of non-essential items :7

دخارجی اسعارو دکنترول پواسطی سره دولت کولی شی چی دغیری ضروری شیانود را واردولو مخنیوی وکړی.

## Advance against properties

هغه شتمنی دکومو په بدل کی چی مونږ دبانک څخه قرض اخلو:

### A: Mortgage

ګروه ګر: کله چی یوکس خپله نه انتقالیدونکی شتمنی لکه ځمکه یا تعمیر دبانک سره ګروه کړی اودهغی په بـدل کی دبانـک څخـه قـرض واخلی دی تـه Mortgage وایی. پـدی قرارداد کی چی کله قرض اخیستونکی پـه خپـل وخت سـره بانـک تـه قـرض واپس نـه کړی نوبانک دا حق نه لری چی دمحکمی له اجازی پرته دا شتمنی خرڅه او خپلی پیسـی ترلاسـه کړی.

## Parties برخی:

Mortgager ګروه کوونکی: هغه کس ته ویل کیږی چا چه خپله نه انتقالیدونکی شتمنی ګروه کړی وی.

Mortgagee ګروه ورکوونکی: هغه کس ته ویل کیږی چی دچاسره چی نه انتقالیـدونکی شـتمنی ګـروه شوی وی.

## Right and liability of mortgager

(c) ketabton.com: The Digital Library

دگروه کوونکی حقوق اوذمه واریانی:

۱: کله چی د **Mortgagee** قرارداد پوره شی او **Mortgager** پخپل وخت سره بانک ته قرض واپس کړی نود **Mortgager** دا حق جوړیږی چی پخپل جایداد باندی قبضه ترلاسه کړی.

۲: کله چی جایداد **Mortgager** ترلاسه کړ نوپه جایداد چی څومره ټیکسونه راځی هغه به **Mortgager** ورکوی.

۳: د **Mortgagee** دقرارداد په دوران کی چی شتمنئ ته کوم نقصان ورسیږی نو دا د **Mortgager** حق جوړیږی چی د **Mortgagee** څخه دتاوان غوښتنه وکړی.

## *Right and liability of mortgagee*

دگروه ورکوونکی حقوق اوذمه واریانی:

۱: کله چی دمحکمی لخوا نه **Mortgagee** ته دجایداد دخرڅولو اجازه ورکړل شی نو دا د **Mortgagee** حق جوړیږی چی جایداد خرڅ کړی اوخپلی پیسی ترلاسه کړی.

۲: کچیرته دمحکمی لخوا څخه **Mortgagee** ته دجایداد خرڅولو اجازه ورنه کړل شی نوپه **Mortgagee** باندی دا لاندی ذمه واریانی راځی .

۱: دجایداد به داسی حفاظت کوی لکه څوک چی دخپل جایداد حفاظت کوی.

۲: دجایداد څخه چی څومره عوائیدلاسته راځی په هغی به د **Mortgagee** حق جوړیږی.

۳: دجایداد ټول ټکسونه به دجایداد دعوائیدو څخه ورکول کیږی.

۴: دجایداد ترمیم مصارف به دجایداد دعوائیدو څخه ورکول کیږی.

۵: **Mortgagee** باید په جایداد کی هیڅ قسمه تغیرات را نه وړی.

## *B: Pledge*

کله چی یوکس خپله انتقالیدونکی شتمنی دبانک سره گروه کړی اودهغی په بدل کی دبانک څخه قرض واخلی اوشیان دکمپنئ یا دشخص دگودام څخه دبانک گودام ته انتقال شی دی ته **Pledge** قرارداد ویل کیږی.

## ***Parties برخی***

**1 :Pledger** هغه کس ته وایی چا چه خپله انتقالیدونکی شتمنی دبانک سره گروه کړی وی.

**2 :Pledgee** هغه کس ته وایی چا چه انتقالیدونکی شتمنئ گروه اخیستی وی.

## *C: Hypothecation*

کله چی یوکس خپله انتقالیدونکی شتمنئ دبانک سره گروه کړی اوشیان دکمپنئ دگودام څخه دبانک گودام ته انتقال نه شی دی ته ***Hypothecation*** وایی.

## *D: line*

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې یوکس خپله انتقالیدونکی شتمنی دبانک سره ګروه کړی او دقرض نه واپس کولوپه صورت کی بانک داحق لری چې دمحکمی داجازی نه پرته هغه شتمنی خرڅه کړی اوخپلی پیسی تر لاسه کړی.

## Islamic banking

## Main instruments of Islamic banking

### Musharika :1

مشارکه دعربی لفظ نه اخیستل شوی دی چې مطلب یی شراکت دی. دمشارکه په کاروبارکی مشتری اوبانک په کاروبارکی شریکیږی اوهمدارنګه دکاروبارپه ګټه اوتاوان کی هم دواړه شریک دی.

دمشارکه کاروبار لاندی خواص لری:

۱: کچیرته دمشارکه کاروبار اضافی پیسوته ضرورت شی نواضافی پیسی به کاروبارته دبانک لخوا نه راوړل کیږی.

۲: دکاروبار ټول فعالیتونه اوکړنی مشتری ترسره کوی بانک صرف دهغی دڅارنی حق لری.

۳: دکاروبارپه ګټه اوتاوان کی به بانک اومشتری دقرارداد له مخی شریک وی.

### Mudariba :2

مضاربه دعربی لفظ مضرب نه اخیستل شوی چې مفهوم یی مدیردی یامنیجر.دمضاربه په کاروبارکی به یوه ډله کاروبارته پیسی راوړی چې ورته (رب المال) وایی اوبله ډله به خپل مهارتونه استعمالوی چې ورته (مضاربه) وایی.

دمضاربه کاروبار لاندی خواص لری:

۱: مضاربه کاروبارباید راجستروی.

۲: کوم کس چې دمضاربه کاروبارمخ ته وړی نو د مضاربه کاروبارپه دوران کی دبل کاروبارپرمخ وړولو حق نه لری.

۳: دمضاربه کاروباردڅارنی لپاره یوه اسلامی کمیټه تاکل کیږی ترڅودمضاربه کاروبار ټول کارونه تائید کړی چې دشریعت مطابق دی اوکه نه.

۴: کوم کس چې دمضاربه کاروبارمخ ته وړی باید دکاروبارپه باره کی مکمل معلومات ولری.

۵: دمضاربه کاروباردسرمایی لاسته راوړولولپاره کولی شی چې سهمونه خرڅ کړی.

۶: دمضاربه کاروبار ګټه به دمشتراوبانک ترمنځ دقرارداد له مخی تقسیمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷: دمضاربه کاروبارتاوان به د رب المال په غاړه وی.

## Participation term certificate (PTC) :3

هغه قرض پاڼوته وایی چی په کوم کی چی مشتری اوبانک په ګټه اوتاوان کی شریک وی. لاندی خواص لری:

۱: دا دسرمایه ګزارئ اسلامی طریقه ده

۲: (**PTC**) لنډمهاله او اوږدمهاله کیدای شی.

۳: کچیرته کاروبارګټه وکړه نو(**PTC**) اخیستونکی ته به ګټه ورکول کیږی.

۴: کچیرته کاروبارتاوان وکړ نو(**PTC**) اخیستونکی ته به تاوان ورکول کیږی.

## Leasing :4

کله چی یوکس خپله شتمنی دبانک سره ګروه کړی او دهغی په بدل کی دبانک څخه قرض واخلی او بانک دشتمنئ داستعمالولوپه بدل کی هغه کس ته یوه اندازه عوائید هم ورکړی دی ته اجاره وایی.

## Bai- Muajjal :5

کله چی بانک خپلومشتریانوته دخرڅلاو لپاره شیان واخلی اودهغی لپاره یومناسب نرخ وټاکی نو دی ته **Bai muajjal** وایی او دا داسلامی بانکونودګټی یوه وسیله ده.

## Rent sharing :6

کله چی بانک دیوکس په ځمکه کی تعمیرجوړکړی او دهغی تعمیرپه عوائیدوکی بانک دمشتری سره شریک شی دی ته رینټ شئیرینګ وایی.

## Hire purchase :7

کله چی بانک خپلومشتریانوته په کشتونوباندی شیان واخلی اودشیانواصلی نرخ پټ وساتل شی یعنی په شیانوباندی دوه نرخونه کینیول شی .دمثال په ډول یوکس په بل کس باندی موټرپه کشتونوخرڅوی دموټر قیمت دری لکه افغانۍ دی دا یی پری په څلور لکه خرڅ کړی، داسی نه چی دیوکال لپاره په دومره او ددوه کالولپاره په دومره یونرخ به پری ږدی.

# Electronic banking

برقی بانکداری هغه بانکداریئ ته ویل کیږی چی د انټرنیټ له لاری ترسره کیږی او دی بانکداریئ ته(**Home banking. Online banking. Internet banking**) هم وایی.

# Electronic payment system

## Credit card :1

کریډیټ کارډ هغه کارډ ته ویل کیږی چی په کوم باندی مشتری دبانک څخه قرض اخلی. پدغه کارډباندی مشتری نشی کولی چی دبانک څخه نغدی پیسی ترلاسه کړی په کریډیټ کارډباندی مشتری کولی شی چی خریداری ترسره کړی په کریډیټ کارډکی لاندی خبری شاملی دی.

A) دکریډیټ کارډ څخه مشتری کولی شی چی دملک دننه او دملک څخه بهر استفاده وکړی.

B) دکریډیټ کارډ د ترلاسه کولولپاره مشتربايد بانک ته عریضه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

C) کریډیټ کارډ دیوکس څخه بل کس ته نشی انتقالیدلی.
D) چی کله هم په کریډیټ کارډ باندی راکړه ورکړه وشی نوبانک دمشتری څخه فیس اخلی.
E) کله چی دلومړی ځل لپاره مشتری غواړی کریډیټ کارډ جوړکړی نوبانک ته باید دغړیتوب ***Membership*** فیس ورکړی.
F) کریډیټ کارډ باید دکال څخه وروسته نوی شی اومشتری به دنوی کیدو فیس هم جمع کوی.

## ATM (Automated teller machine) card :2

داهغه کارډ ته ویل کیږی چی په کوم کی مشتری خپلی قاغذی پیسی برقی پیسوته تبدیلوی پدغه کارډ باندی مشتری دبانک څخه قرض نشی اخیستلی پدی کارډکی دمشتری خپلی پیسی موجودی وی په ***ATM CARD*** باندی مشتری بانک ته هیڅ قسمه سود نه ورکوی. پدغه کارډ باندی مشتری په یوه ورځ کی دیوخاص اندازه ټاکل شوی پیسوڅخه زیاتی پیسی نشی راویستلی.

## Debit card :3

داهغه کارډته ویل کیږی چی پدی کی دمشتری خپلی پیسی هم شاملی وی اودبانک څخه وراندی هم قرض راویستلی شی چی کله په ***ATM CARD*** باندی بانکونه خپلومشتریانوته دقرض ورکولوسهولیت هم ورکړی همدغه ***ATM CARD*** په ډیبټ کارډ ته بدلیږی.

## Online banking :4

هغه بانکداری کومه چی د انټرنیټ پواسطه ترسره کیږی هغی ته انلاین بانکداری ویل کیږی. په انلاین بانکداری کی مشتری کولی شی چی دبانک دهری څانګی څخه پیسی وباسی او یا هم یکی پیسی جمع کړی او یا هم دیوځای څخه بل ځای ته انتقال کړی .

The End

***Prepared by Asifmobasser***

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**